محمدنعمان دوست

۲۰۲۵/۱۲/۱۴

# ائتلافونه

شمشتو ته د ښوونځي اسنادو پسي تللی وم .هلته پر یوه دیواله، د دې شعار لوستلو سخت خوند راکړ:
جنګ، جنګ تا ختم کلم جم!

ځکه چې دا په کابل کې د تنظیمي جګړو د اوج دور و او د کلم جمو د وحشت پریمانه زړه بوږنوونکي کیسې مې اوریدلي وې.

خو چې میاشت وروسته، کابل ته راغلم نو دواړو ډلو جانانه ائتلاف کړی و.
موږ هغه وخت د ګڼو دغسي مؤقتو ائتلافونو شاهدان وو، چې دې هر ائتلاف او بیا ټوټه کېدو به یي د جګړو له شدت سره مرسته کوله.

که په یاد مو وي؛ د حامد کرزي په واکمنی کې یونس قانوني ګڼ ، په اصطلاح سیاسي ګوندونه، سره راټول کړل او له حکومته یې باجګیري ته وسیله جوړه کړه. د دې جبهې ویاند فاضل سنچارکي ډېر په غرور وویل: که حامد کرزی، د جبهې غړیتوب وغواړي، موږ به پرې فکر وکړو!
خو له لنډ وخت وروسته، همدا پیاوړې جبهه، دړې وړې او جنازه یې وشوه.

هغه بل ورځ چې له هېواده بهر کوم ائتلاف جوړ سو، یقیني وم چې دا به هم ډېر ژر پټاویړي، د هماغي ورځې په سهار مو ولوستل چې د چنګښنو له دې ډلې، صلاح الدین خان ټوپ کړی دی.

کیسه دا ده چې زموږ په یادښت چې کوم ائتلافونه شوي، ټول د ذاتي او ګوندي مفاداتو لپاره شوي نه د وطن او ولس لپاره؛ ځکه خو یې عمرونه هم لنډ وي.

د ارواښاد غفارخان بابا دا خبره، د کاڼي کرښه ده:

په خذمت کې "اختلاف نه وي؛ اختلاف له خود غرضی پیدا کیږي ".

خود غرضه به څه وي او ائتلافونه به یې څه وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ